**په افغانستان کی د جاپان سفارت**
**رسنیزه خبرتیا**

**د جاپان هیواد د ۴۰۰،۰۰۰ امریکایی دالړو به لګښت د ۴ نوی پراختیایی پروژو د وړیا مرستو د پروژی تر نامه لانده مرسسته وکړه.(GAGP)**

کابل – د ۱۳۹۳ کال د کب ۲۰ مه نیټه: په کابل کی د جاپان سفارت نن د 4 نوی پراختیایی پروژو د لاسلیک غونډه وکړهدا غونډه په کابل کی چه د جاپان سفارت ودانی کی جوړه شوی وه د جاپان سفارت شارژدافیر ښاغلی کینچی ماساماتو د ۴ نوی پراختیایی پروژو قرارداد د ۳غیر دولتی ار ګانو استازو سره د ۴۰۰،۰۰۰ امریکایی دالړو په لګښت د وړیا مرستو د پروژی (GAGP)تر نامه لاندی لاسلیک کړدا غونډه که د اقتصاد او د کلیو د بیا رغونی او پراختیا وزارتونو استازو په ګډون نورو استازو هم ګډون کړی وه.

د نوی منظور شوو پروژه به ۷۶۰ کسان په پنجشیر، پروان او لغمان ولایتونو کی ګټه واخلی. دا پروژی به د ۱۰۰۰۰ جریبه ځمکه نه دیرسیمه د سیلاب ګوا ښونو نه مخنیوی وکړی.

کرهنه د افغانستان د پرختیا اساسی بنسټ دی. د استنادیدیوالونو او سربندونو په اساسی ډول جوړول به د کروند ګرو سره مرسته وکړی تر څو د کرهنی لپاره په کافی ډول اوبه ولری له دی امله به د ښه حاصلاتو او د کروند ګرو اقتصادی کچه لوړه شی. دا د یاد وړ ده چی تیر کال سیلابونو د پنجشیر، پروان او لغمان او د افغانستان نورو ولایتونو کی دیره ځمکه یی د اوبو لاندی کړه او زیات شمیر کروند ګر له دی امله زیانمن شول.

تر ننه ۹۳۱ پروژی د وړیا مرستو د پروژی(GAGP) تر نامه لاندی مرسته په افغانستان کی د کال 1999 او ننی ۴ پروژو په ګډون په بشپړه ډول ۱۲۱۵۱۵۹۳ امریکایی دالړو په لګښت په ۳۴ ولایتونو کی په دیر مهمو برخو کی لکه روغتیا، زدکړه، کرهنه، مسلکی زدکره، د ماین پاکولو ، کلیو پراختیا او بنسټیزو مرستی کړی دی. دا پروژی په مستقیمه توګه د محل د خلکو ضروریاتو ته او د مدنی تولنی ملاتړ ځواب ورکونکی وی.

جاپان د افغانستان دبیا رغونی هڅو کی په بیلا بیلو برخو لکه امنیت،زدکړه، روغتیا، فرهنګ، بشری مرستیکرهڼه او د ظرفیت پهلوړولو کی مرستی کړی دی.د 2001 کال راپدی خوا افغانستان سره د جاپان مرستی پهبشپړه ډول ۵,۷۸ میلیاردو ډالرو ته رسیږ.

دزیاتو معلوماتولپاره:

افغانستان دجاپان سفارت.
میوند زرمتی gagp2@kb.mofa.go.jp